**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

# د تقنیني سندونو شننه

1. **د سند نوم: د تقنیني سندونو د پړاوونو د تېرولو د څرنګوالي په هکله ۹مه ګڼه فرمان**
2. **سریزه:**

**أ. د دې سند مبناء**

دا تقنیني سند د اوسني نظام د مشر د ۱۴۴۴/۳/۲۸ هـ ق، مصادف ۲۴ اکتوبر ۲۰۲۲ میلادي، نېټې د (۹) ګڼه فرمان پر بنسټ منظور او په (۱۴۳۲) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی دی.

**ب. د دې سند لنډیز**

دا فرمان لومړی په ۱۴۰۱/۸/۱۴ هـ ل نېټه په (۱۴۲۴) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی و. وروسته، په دویم ځل له یو لړ تعدیلاتو وروسته د ۱۴۴۴/۱۱/۲ هـ ق – ۱۴۰۲/۳/۱ هـ ل نېټې په (۱۴۳۲) ګڼه رسمي جریده کې خپور شو. په دې فرمان کې د اسلامي امارت په نظام کې د تقنیني سندونو د پړاوونو د تېرولو څرنګوالی په ۵ مادو کې توضېح شوی دی.

**ج. د دې تقنیني سند د تطبیق ساحه**

تر کومه چې دا سند د تسوید له پړاو څخه تر د خپرېدو پړاو پورې د تقنیني سندونو د پړاوونو د تېرولو پروسې څرنګوالی تنظیموي او جزئیات یې په ډاګه کوي، له دې کبله، د دې سند د تطبیق ساحه ټول امارتي وزارتونه او ادارې په بر کې رانغاړي.

**د. د تقنیني سند تطبیقوونکې مسئوولې ادارې**

په لومړي ګام کې، ټول امارتي وزارتونه او ادارې د دې سند د تطبیق مسئوولیت لري، ځکه چې هره امارتي اداره باید د دې سند په رڼا کې د تقنیني سند ابتدائي مسوده ترتیب کړي. خو د بیاکتنې خپلواک کمېسیون او د عدلیې وزارت په دې برخه کې تر بل هر چا زیات مسئوولیت لري.

3. **شرحه او شننه:**

**أ. هغه بدلونونه چې دا سند یې رامنځته کوي او د دې سند مهم موارد**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

د دې پنځه ماده یېز فرمان په رڼا کې، د اسلامي امارت په نظام کې د تقنیني سند ابتدایي مسوده په خپله په اړونده اداره کې ترتیبېږي. اړونده اداره مکلفیت لري چې د علماوو، متخصصینو او د اړونده څانګې باتجربه مسلکي کارکوونکو څخه یوه کمېټه جوړه او د تقنیني سند د ابتدایي مسودې په تسوید یې وګوماري. که د تقنیني سند تطبیق په څو ادارو پورې اړه ولري، له دواړو ادارو څخه د یادو کسانو په ترکیب سره یوه ګډه کمېته جوړېږي او د کمېټې ریاست هغه اداره پر غاړه اخلي کومه چې د تقنیني سند په تطبیق کې زیات مکلفیت لري. دا کمېټه مکلفه ده چې د شرعي اړخ درلودونکو مادو لپاره د حنفي فقهې له کتابونو څخه فقهي ماخذونه پیدا کړي.

له تسوید وروسته، تقنیني سند د تدقیق په غرض عدلیې وزارت ته استول کېږي. د عدلیې وزارت مکلفیت لري چې د تقنیني سند ابتدائي مسوده د علماوو او د قانون جوړونې او د علمي څېړنو د مسلکي غړیو په واسطه تدقیق کړي. وروسته، د عدلیې وزارت، تدقیق شوی تقنیني سند د نهائي کتنې په منظور خپلواک کمېسیون ته، چې د تقنیني سندونو د نهائي کتنې په موخه جوړېږي، استوي. دا کمېسیون مکلف کړای شوی دی تر څو تقنیني سند په دقیق ډول وڅېړي او ټول اړین اصلاحات پکې راولي. د تقنیني سندونو د نهائي کتنې کمېسیون د تقنیني سندونو د کتنې او تصحیح وروستنۍ مرجع ده. یاد کمېسیون تقنیني سند له نهایي کتنې وروسته د توشېح په موخه د اسلامي امارت مشرتابه ته وړاندې کوي. بیا، تقنیني سند د توشېح وروسته په رسمي جریده کې د خپرېدو لپاره عدلیې وزارت ته استول کېږي. له دې کبله، د اسلامي امارت په نظام کې، د دې لپاره چې تقنیني سندونه د انفاذ پړاو ته ورسېږي، له ۵ پړاوونو څخه تېرېږي چې پکې تسوید، تدقیق، نهائي کتنه، توشېح او په پای کې په رسمي جریده کې خپرېدل په شامل دي.

په جمهوري نظام کې، یوازې اجرائیه قوه د قانون د طرحې تسویدوونکې مرجع نه وه، بلکې د دولت له درې ګونو قواوو څخه هرې قوې – اجرائیه قوه، قضائیه قوه او مقننه قوه – کولای شول د قانون د طرحې په تدوین او ترتیب سره د قانون جوړونې بهیر پیل کړي. د جمهوریت د دورې د اساسي قانون د پنځه نوي یمې مادې پر بنسټ دوه ډوله تقنیني طرحې موجودې وې چې د حکومت د قانون طرحه (Government bill) او د غړیو د قانون طرحه (Members' bill) نومېږي. هغه تقنیني طرحه چې مسوده یې د اجرائیه قوې یا د قضائیه قوې له لوري ترتیب کېده، د حکومت د قانون طرحه په نوم یادېده او له پړاوونو څخه د تېرېدو پروسه یې نسبتاً اوږده وه. په داسې حال کې چې هغه تقنیني طرحه، چې مسوده یې پخپله د ملي شورا د غړیو له خوا ترتیب کېده، د غړیو د قانون طرحه په نوم یادېده او پروسه یې د حکومت د قانون د طرحې په پرتله یې نسبتاً ځانګړې او متفاوته وه. حکومت (اجرائیه قوه او قضائیه قوه) او ملي شورى (مقننه قوه) د جمهوریت دورې په حقوقي نظام کې د قانون د طرحه کولو مراجع وې. د جمهوریت د دورې د اساسي قانون په پنځه نوي یمه ماده کې د قانون په طرحه کولو کې د حکومت واک داسې تصریح شوی دی: "حکومت کولای شي د خپلې خوا او یا د سترې محکمې له خوا – د قضائي چارو د تنظیم په برخه کې – تقنیني طرحې پیشنهاد کړي."

د جمهوریت په دوره کې د قانون د طرحې، په ځانګړې توګه د حکومتي طرحې، د پړاوونو د تېرولو پروسه له ۶ پړاوونو څخه تېرېده. یاد پړاوونه دا دي: د اړونده اداري له خوا د تسوید پړاو، د عدلیې وزارت کې د تدقیق پړاو، د وزیرانو په شورئ کې د تائید پړاو، په ملي شورئ کې د تصویب پړاو، د جمهور رئیس له خوا د توشېح پړاو، او په پای کې د عدلیې وزارت له خوا په رسمي جریده کې د خپرېدو پړاو. دا پړاوونه په لنډه توګه د تقنیني سندونو د خپرولو، انفاذ د ډول او د پړاوونو د تېرولو قانون، چې په (۱۲۴۶) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی، په (۷)مه ماده کې ذکر شوي دي. د قانون مسوده د اړونده اداري له خوا ترتیب کېده. که قانون په څو ادارو پور تړاو درلوده، د هماغه ادارو له غړو څخه جوړ یو کمېسیون ټاکل کېده او د قانون مسوده یې ترتیبوله. که قانون په یوې یا زیاتو ادارو پورې تړاو نه درلوده، بلکې عام ماهیت یې درلوده، په دې صورت کې جمهور رئیس یا د وزیرانو شورئ کولای شول د داسې یوه قانون د طرحې د تسوید لپاره، چې د عام ماهیت او زیات اهمیت درلودونکی و، یو باصلاحیته کمېسون وټاکي. همدارنګه د عدلیې وزارت انستیټیوټ کولای شول د عامه ماهیت درلودونکي یوه قانون طرحه د تسوید، تدقیق او د پړاوونو د تېرولو لپاره وړاندې کړي.[1]

هغه مبهم موارد چې په دې فرمان کې شتون لري، دا دي چې په فرمان کې دې ټکي ته اشاره نه ده شوې چې، که کوم تقنیني سند د عام ماهیت درلودونکی وي، څوک باید د هغه قانون مسوده ترتیب کړي. ځکه چې یوازې همدومره ویل شوي دي چې د تقنیني سند ابتدائیه مسوده دې د اړونده اداري له خوا تسوید شي، او همدارنګه ویل شوي دي چې، که د تقنیني سند تطبیق په څو ادارو پورې اړوند شي، د اړونده ادارو د ګډې پرېکړې پر بنسټ دې د تقنیني سند د ابتدائي مسودې د تسوید په موخه یوه کمېټه، چې پکې د علماوو په ګډون د اړونده ځانګې باتجربه مسلکي کارکوونکي او د هرې اداري متخصصین شامل وي، جوړه او توظیف شي. خو په دې فرمان کې د عام ماهیت درلودونکي تقنیني سند د تسوید مرجع مشخص شوې نه ده.

د اسلامي امارت په نظام کې د تقنیني سند د پړاوونو تېرېدلو پروسه، لکه څرنګه چې مخکې یې یادونه وشوه، ۵ پړاوونه لري. یاد پړاوونه دا دي: د اړونده اداري له خوا د تسوید پړاو، د عدلیې وزارت له خوا د تدقیق پړاو، د خپلواک کمېسیون له خوا د وروستۍ کتنې پړاو چې په همدې موخه جوړېږي، او د اسلامي امارت د رهبر له خوا د توشېح پړاو، او د عدلیې وزارت له خوا په رسمي جریده کې د خپرېدو پړاو. د پام وړ ټکی دا دی چې د اسلامي امارت په نظام کې د قانون جوړونې په پروسه کې کابینه څنګ ته کړای شوې او نقش یې په بشپړه له پامه غورځول شوی دی. خو په جمهوري نظام کې تقنیني سند د تائید په موخه کابینې ته استول کېده او د کابینې د قوانینو په کمېټه کې معمولاً د شکل، محتوا او تخنیکي موضوعاتو له اړخه د سند نهائي کتنه ترسره کېده. ورپسې، یاد سند د کابینې له خوا د تقنیني سند د شکل او محتوا له اړخه د هراړخیزې کتنې وروسته له احوال سره سم تایید یا تصویب کېده. یو بل توپیر هم د یادولو وړ دی چې د جمهوریت په دوره کې، د قانون جوړونې واک نه یوازې دا چې د خلکو استازو ته ورکړل شوی و، بلکې ټینګار شوی و چې د مدني ټولنې سازمانونو، خصوصي سکټور او نورو حقیقي یا حکمي

[1] د تقنیني سندونو د خپرولو، انفاذ د ډول او د پړاوونو د تېرولو قانون، چې په (۱۲۴۶) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی، ۱۷مه ماده دې وکتل شي.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله څخه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

اشخاصو ته دې د قوانینو د پړاوونو د تېرولو پروسه کې، د قوانینو له تدوین څخه نیولې تر تصویب او نهائي کېدو پورې، د ګډون حق ورکړل شي. د مدني ټولنې سازمانونو، خصوصي سکتور او خلکو حق درلوده چې خپل نظرونه په اړونده اداره کې د تقنیني سند د تسوید پر مهال یا په ملي شورا کې یې تر تصویب وړاندې په تقنیني سندونو کې شامل کړي. خو په موجوده نظام کې، ټول تقنیني سندونه د مدني ټولنې سازمانونو یا خلکو څخه د نظر غوښتنې پرته له پړاوونو څخه تېرېږي او تصویب کېږي.

**ب. له نورو ورته امارتي سندونو او له نړیوالو حقوقي سندونو سره د دې سند مو افقت یا نه مو افقت**

که څه هم په همدې محتوا سره په اوسني نظام کې کوم بل تقنیني سند تر اوسه پورې ترتیب شوی نه دی چې ورسره د دې سند موافقت مطرح شي، خو د جمهوریت په دوره کې د "[د تقنیني سندونو د جوړولو، انفاذ د ډول او د پړاوونو د تېرولو قانون]()" سرلیک لاندې یو تقنیني سند نافذ او په (۱۲۴۶) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی و او د نظام ډول ته په کتو له دې تقنیني سند سره ډېر توپیر لري او اوسمهال نافذ نه دی.

**4. احتمالي اغېزې:**

**أ. پر مخاطبانو مثبتې احتمالي اغېزې**

که څه هم د دې سند له ترتیبولو مخکې د اسلامي امارت په نظام کې د تسوید له پړاو څخه د انفاذ تر پړاو پورې د قانون جوړونې او د تقنیني سندونو د پړاوونو د تېرولو پروسه معلومه نه وه او نه هم د قانون جوړونې لپاره یو روښانه چوکاټ ټاکل شوی و او وضعیت ګونګ او مبهم و، خو د دې سند تر ترتیبېدو وروسته، ټولو امارتي ادارو ته روښانه شوه چې څنګه یو تقنیني سند له پړاوونو تېر او د کارونو او فعالیتونو پروسه ګړندی کړي.

**ب. پر مخاطبانو منفي احتمالي اغېزې**

دا چې د دې سند مخاطبان ټولې امارتي ادارې دي، له دې کبله، د دې تقنیني سند محتوا ته په کتو، چې د قانون جوړونې پروسه تشریح کوي، زه پر مخاطبانو باندې د دې سند کومې منفي احتمالي اغېزې نه وینم.

**5. ستونزې:**

**أ. د دې سند تطبیق کومې ستونزې رامنځته کوي؟**

د دې فرمان د دریمې مادې په (۱) فقره کې تصریح شوې ده چې د تقنیني سند د نهایي کتنې په موخه، یو خپلواک کمېسیون جوړېږي او دا کمېسیون مکلفیت لري چې د هغه تقنیني سند مسوده، چې د عدلیې وزارت له خوا ورته رسېږي، په دقیق ډول

وځېږي او په تقنیني سند کې توُل اړین تصحیحات راولي. دا کمېسیون د تقنیني سندونو د کتنې او تصحیح وروستنۍ مرجع معرفي شوی دی. د وروستنۍ کتنې وروسته، دا کمېسیون یاد تقنیني سند د توشېح په غرض د اسلامي امارت مشرتابه ته استوي. د کمېسیون د "خپلواک" مختارې کلمه ښايي له دولت څخه د یوې مستقلې ادارې په توګه تعبیر شي، په دې صورت کې کمېسیون د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري نېغ په نېغه اداره کېږي او هغه ته راپور ورکوي او غړي يې د هغه له لوري انتصاب کېږي. دا چاره د قانون جوړونې پر بهیر د اسلامي امارت د مشر تسلط او کنټرول ښکارندوه ده. په واقعیت کې په دې نظام کې، د قواوو تفکیک د اوسني عصر د تعریف شوې اصطلاح په مفهوم سره مطرح نه دی، او د مقننه قوې په ګډون توُلې قواوې د اسلامي امارت د مشرتابه په واک کې قرار لري. نن ورځ، د قانون جوړونې په مرجع کې د خلکو ګډون او ښکېلتیا معمولاً په دوه عمومي حالتونو سره صورت مومي چې عبارت دي: مستقیم حالت؛ د ټولپوښتنې او مستقیماً د خلکو رأیو ته د مراجعې له لارې، او غیرمستقیم حالت؛ د قانون جوړونې مجلس یا مجلسونو له لارې چې د خلکو له استازو څخه جوړ وي، په داسې حال کې دویم حالت یې عمومي حالت ګڼل شوی دی. په هر حال، په پورتني چوکاټ کې، دا مهمه او بنسټیزه پوښتنه مطرح کېږي چې د قانون جوړونې په نوموړي نظام کې خلک څه نقش لري او څنګه پکې ګډون کولای شي؟

### ب. د ستونزو د هوارې یا یې د کچې د راټیټولو لپاره پیشنهادي حل لارې

البته په اوسني عصر کې د یوه نظام د پایښت او تداوم لپاره باید هڅې وشي تر څو خلک، په خلکو باندې د څرخېدونکیو میکانیزمونو د رامنځته کولو له لارې، په یو نه یو ډول د قوانینو په تدوین او د پالیسیانو په ترتیب کې شریک کړل شي.

د یوه پایداره، غښتلي، روڼ او ځواب ویونکي نظام د رامنځته کولو لپاره اړین ګڼل کېږي چې باید پر خلکو څرخېدونکی یو جوړښت او چوکاټ رامنځته کړل شي چې پکې عمومي مشارکت او د وګړتوب/تابعیت د حقونو مساوات رعایت کړل شي تر څو د نابرابرۍ، تاوتریخوالي، بې عدالتۍ، بې امنۍ او بې ثباتۍ لپاره زمینه برابره نه شي.